# په افغانستان کې پر ملکي وګړو د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو اغېز

د یوناما د بشري حقونو څانګه

۱۵ آګوست ۲۰۲۱ – ۳۰ می ۲۰۲۳

## ضمیمه

## په کابل کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په اړه د راپور مسودې ته ځواب

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د بهرنیو چارو وزارت**

**د بشري حقونو او د ښځو نړیوالو چارو ریاست**

**په کابل کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په اړه د راپور مسودې ته ځواب**

**سریزه:**

افغانستان د یوه داسې هیواد په څېر چې د لسیزو راهیسې له ناورین او نا امنیو سره مخ و، یو هیواد چې د بشپړ امنیت تر رامنځ ته کېدو یې ګڼ شمېر ناورینونه تر شا پرې ایښي، ښايي ستونزې ولري او له هغوې څخه د وتلو په حال کې دی. خو په افغانستان کې د اسلامي امارت تر فتح او بشپړ حاکمیت وروسته، امنیت تأمین شوی او د افغانستان ملت په بشپړ ځاني او مالي امنیت کې قرار لري. د یادونې وړ ده چې په هر هیواد آن د نړۍ په ځواکمنو هیوادونو کې چې تل د بشر حقونو او د بشپړ امنیت ناري وهي، سل په سلو کې امنیت شتون نه لري، موږ کولی شو د هغو بریدونو او وژنو د رامنځ ته کېدو یادونه وکړو چې په لویدیځ کې د جارحه سلاوو په وسیله په ښوونځیو کې د زده کوونکو او په نورو تفریحي ځایونو کې د لسګونو انسانانو ژوند اخلي، یادونه وکړو. خو که چېرې نننۍ افغانستان له دوه کلونو پخوا افغانستان سره پرتله او وارزول شي، نن ورځ زموږ ملت په بشپړ ډول یو هوسا ژوند لري. د اسلامي امارت ځواکونه ځانونه د هیوادوالو د امنیت په تأمینولو مکلف ګڼي او د تروریزم د له منځه وړلو لپاره پر وخت ګام پورته کوي.

**۱. د ځانمرګو بریدونو له امله رامنځ ته شوي تلفات:**

د یاد شوي راپور په مسوده کې په افغانستان کې د مخالفو ډلو په ځانګړي ډول د داعش د خراسان ډلې د ځانمرګو بریدونو د لوړ شمېر یادونه شوې او موضوع له اسلامي امارت سره تړل شوې. په داسې حال کې چې د ملکي تلفاتو کچه راټیټه شوې او ګراف یې نزولي شکل غوره کړي او د وخت په تېریدو سره به په خپل هیواد کې د ناامنۍ د

بشپړ کموالي شاهدان واوسو. اسلامي امارت د هیواد د ټولو اتباعو د امنیت د تضمینولو لپاره ژمن دی او د افغانستان د خلکو د دوښمنانو له بریدونو څخه د مخنیوي په پار د جدي امنیتي تدابیرو په نیولو سره په بشپړ قاطعیت ولاړ دی او له هغوي سره د جدي چلند په کولو سره یې د ورانکارو کړنو مخه نیسي. څرنګه چې اسلامي امارت د دغې موضوع په اړه په خپل آرشیف کې ګڼ شمېر موارد لري، لاندې یې د بېلګې په توګه یادونه کېږي.

- د استخباراتو د عمومي ریاست ځانګړي ځواکونه بریالی شول چې عین الدین محمدي د عبد الوکیل زوی چې په ګڼ شمېر ځانمرګو بریدونو او چاودنو لکه د بلخ پر مرحوم والي مولوي محمد داود مزمل برید، په مزار شریف کې د تبیان پر فرهنګي مرکز برید، د شیعه مذهبو د سه دوکان پر جومات برید، له ملکي افرادو ډک پر فلاینکوچ موټر برید او د ایبک په ښار کې پر یوې دیني مدرسې برید کې یې لاس درلود، ونیسي او اوس مهال تر قانوني تعقیب لاندې دی. دا د دې ښکارندوی ده چې د اسلامي امارت امنیتي ځواکونه د هیوادوالو د امنیت په تأمینولو کې جدي او قاطع دي.

**۲. د تعبیه شویو ماینونو په وسیله پر عبادت ځایونو د بریدونو له امله تلفات:**

د هغه تعهد پر اساس چې اسلامي امارت یې د خپل ملت په وړاندې لري، ځان د عبادت ځایونو، مقدسو ځایونو، مدارسو، تکیه خانو او روزنیزو مرکزونو د امنیت د تأمین په پار مکلف ګڼي او دا د امنیتي ځواکونو له کاري لومړیتوبونو شمېري او په دې زمینه کې ټولې زیانمنېدونکې ساحې تر امنیتي او کشفي پوښښ لاندې نیسي، چې په پایله کې یې د هرې ورځ په تیرېدو سره د دښمن په خصمانه بریدونو کې د پام وړ کموالی تر سترګو کېږي.

**۳. پر هزاره توکمه ټولنې د بریدونو له امله رامنځ ته شوي تلفات:**

د افغانستان وګړي چې هر قوم او نژاد ته منسوب وي د دغې ځمکې اصلي اتباع ګڼل کېږي او د هغوي د هر فرد د امنیت تأمینول د اسلامي امارت د امنیتي ځواکونو دنده شمېرل کېږي. د شیعه مذهبو په تړاو، څرنګه چې ټولو ته معلومه ده د اسلامي امارت امنیتي ځواکونه د ټولنې د دغه ستر قشر دفاع ته هوډمن دي حتی د اسلامي امارت مجاهدینو د شیعه مذهبو د دفاع لپاره خپل ژوند له لاسه ورکړي، د مثال په ډول د ۱۴۰۱ کال د زمري پر ۱۵ نېټه د کابل په سرکاریز سیمه کې د امام باقر (ع) جومات ته څېرمه د عاشورا په مراسمو کې ستره چاودنه رامنځ ته شوه، چې په دغې پېښه کې څو تنو مجاهدینو د شهادت جام وڅکښه.

**۴. پر واکمنو چارواکو د بریدونو له امله رامنځ ته شوي تلفات:**

د لوړ پوړو چارواکو لکه وزیرانو، والیانو، د ولایت او ولسوالۍ د امنیه قوماندانانو د امنیت تأمینول د پاملرنې وړ ده او د هر چارواکي لپاره ساتونکي په پام کې نیول شوي.

**۵. د رسنیو آزادي او د ژورنالستانو خوندیتوب:**

د خبري پوښښ پرمهال د ژورنالستانو د خوندیتوب په تړاو باید د دې یادونه وشي چې د اسلامي امارت د حاکمیت په اوږدو کې که هغه پخوانی و یا اوسنی، د اسلامي امارت له ادرسه د یوه ژورنالست د مړینې په تړاو هیڅ ډول ثبوت شتون نه لري. د اسلامي امارت امنیتي ځواکونه د ژورنالستانو ساتنه خپله دنده ګڼي. که چېرې د پېښې په

ځای کې د ژورنالستانو په وړاندې د تاوتریخوالی کوم مورد ثبت شوی وي، لامل یې د وروستي بل احتمالي برید د رامنځ ته کېدو په صورت کې د ژورنالستانو له تلفاتو مخنیوی دی. ځکه دښمنان هڅه کوي چې د ژورنالستانو او هغو افرادو ترمنځ چې د ټېپیانو د مرستې په پار په صحنه کې حضور پیدا کوي، په برید کولو سره تلفات څو برابره لوړ کړي. د دغه ملحوظ له مخې ممانعت د ژورنالستانو د ناخوښۍ لامل کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت د حکومت له پالیسي او په هیواد کې د خبریالۍ او رسنیو له اصولو سره سم ژورنالستانو ته حق ورکوي چې له ټاکل شوي چوکاټ او اصولو سره په تطابق کې خپل راپورونه چمتو کړي او د هغوي لپاره هیڅ ډول ستونزه شتون نه لري. د خبریالۍ له اصولو د ژورنالستانو د تخلف په صورت کې مسؤولین له متخلفینو سره د قانوني چلند حق لري. د امنیتي ځواکونو هیڅ فرد د وهلو ټکولو او تهدید حق نه لري او د دغه ډول اعمالو د ملاحظه کولو په صورت کې له هغوي سره اصولي او قانوني چلند ترسره کېږي.

**پایله:**

د افغانستان اسلامي امارت په داسې شرایطو کې واک تر لاسه کړ چې هیواد او حکومتي نظام پاشل کېدو ته نږدې و او هیواد له ستروګواښونو سره مخ و. په دغې زماني مقطع کې اسلامي امارت له سالم تدبیر او متحد مدیریت سره پر دې وتوانیده چې هیواد او د نظام سیستم له کوم وقفې پرته له ناورین څخه په ژغورني سره، مدیریت کړي. په هیواد کې د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته هر څه د وخت په تېریدو سره بهتر شوي او په ټول هیواد کې سرتاسري امنیت حاکم شوی، بیا رغونه پیل شوې او د لارو او سړکونو جوړول او رغول پیل شوي. د ټولنې هر فرد کولی شي خپلو سپارل شویو چارو ته رسیدګي وکړي او هیڅ ډول خنډ او مانع شتون نه لري.

نړیوال ژورنالستانو او راپور ورکوونکي باید پر دې پوه شي چې د ملتونو او هیوادونو په وړاندې له خطره ډکې دندې پر غاړه لري او د هیوادونو حقیقتونو ته د غاړې په کېښودو سره د افغانستان پر عیني واقعیتونو، اسلامي نظام او فرهنګ ولاړ خپل فعالیتونه او راپورونه پیل کړي. باید د اسلامي امارت د فعالیتونو مثبتې ټکې چې د دوو کلونو په موده کې رامنځ ته شوي، تر نړیوالو ورسوي.

**پای**